Vol. 3 No. 4 (2025)
ISSN 3007-3170(O)
ISSN :3007-3162(P)
Social Sciences & Humanity Research Review

# A Technical and Intellectual Analysis of "Takal " in Watan Magazine

# د وطن مجلې د " تکل " فني او فکري جاج

**Midrar Ullah[1], Dr. Shukria Qadir [2]**

MPhil Scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan
[2]Assistant Professor Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

**ARTICLE INFO**

**Keywords:**

Takal genre, Watan magazine, Pashto literature, Pashto prose, Editorial board

**Corresponding Author:**
**Midrar Ullah,** MPhil Scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

**ABSTRACT**

This research article focuses on the technical and ideological aspects of the "*Takal*" (a type of essay) genre published in *Watan* magazine, and its literary and intellectual contributions to Pashto literature. *Watan* was a Pashto bi-monthly magazine published from Mardan, Khyber Pakhtunkhwa. It was started in 2007 and closed in 2010. The data for this article is collected from different issues of *Watan* magazine and analyzed in detail. The article mainly examines six 'takalona' written by different authors. It begins with a discussion on Khyber Pakhtunkhwa, its literature, and the history of magazines in Khyber Pakhtunkhwa. It then introduces *Watan* magazine, its editorial board, and its purpose in fostering cultural, educational, and literary awareness among Pashtuns. The article also explores the definition and stylistic boundaries of Takal, tracing its historical development from French and Arabic literary traditions, and explains how this form was adopted into Pashto literature. The analysis shows that Takals were written in simple, fluent, and literary language, appealing to a broad readership and nurturing national consciousness, literary appreciation, and cultural pride among Pashtuns. Through these Takals, *Watan* magazine played an important role in discussing social issues, traditions, values, and critiques of modernity. The analysis also suggests that the Takal genre in *Watan* magazine had great significance in Pashto literature and in constructing a collective cultural consciousness of Pashtuns. The article concludes that *Watan* magazine enriched Pashto prose literature, especially by shaping and promoting the Takal genre, and by providing a valuable platform for Pashto writers to creatively engage with contemporary societal issues.

## 1.1 پېژندګلو:

د پښتنو خاوره د تاریخ په اوږدو کښې د اریانا، افغانیه، افغانستان، پښتونخوا، روه او د روهستان په نامه سره یاده شوې ده ـ د لوئې پښتونخوا دا خاوره د ډېورنډ د معاهدې په نتیجه کښې پېرنګیانو په دوه ځایه تقسیم کړه ـ یوې برخې ته افغانستان او بلې ته اوس خېبر پښتونخوا وئیلے شي ـ چې په نن وخت کښې د پاکستان یوه صوبه ده چې څلور کروړه اتۀ نیم لکه 4,08,50,000 ابادي لري ـ په خېبر پښتونخوا کښې د بېلابېلا قومونو خلق ژوند کوي چې پکښې ګڼې ژبې وئیلے کیږي ـ لکه ګوجري، هندکو، سرائیکي، اردو، کهواري، شینا، ګاوري، توروالي، کېلاشي، کوهستاني، پلوله او ځنې نورې ژبې وئیلے کیږي چې تعداد ئې دېرشو پورې ښودلے کیږي ـ خو د زیات تره وګړو ژبه ئې پښتو ده ـ د مذهب له رویه اکثر پکښې مسلمانان دي چې تر ټولو زیات سني، شیعه او بیا اسماعیلي ملکونو سره تعلق لري ـ غېر مسلمه قومونه هم دلته شته چې خپلې مذهبي سرګرمۍ دلته کوي ـ

”خېبر پښتونخوا د لویو تهذیبونو ټاټوبے دے دلته ګندهارا تهذیب زېږېدلے دے او تر بامه رسېدلے دے “ـ[i]

په خېبر پښتونخوا کښې چې څنګه بېلا بېل تهذیبونه زېږیدلي دي نو دغه شان دلته ځنې تحریکونه هم تېر شوي دي چې دې تحریکونو لوئې لوئې خلق زېږولےدے ـ دغه شان په خېبر پښتونخوا کښې ډېر علمي او ادبي خلق هم پېدا شوي دي ـ چې د پښتو ژبې او ادب دپاره ئې یو شمېر خدمتونه هم کړي دي ـ دې لویو لویو لیکوالانو پښتو ژبه په هره حواله غني کړې ده ـ کۀ یو اړخ ته ئې په شعر و ادب کښې ځنې کتابونه لیکلي او خپارۀ کړې دي نو ورسره ئې د پښتو ژبې د صحافت په اړه یو شمېر مجلې هم اجرا کړي دي چې دې مجلو د پښتو په ادبي ، علمي، سیاسي، سماجي، اخلاقي، او ټولنیزو موضوعاتو د پښتون قام روزنه کړې ده ـ او پښتو ته ئې ډېره لویه ګټه رسولې ده. دغه مجلې یا خو د څۀ تنظیمونو له خوا یا د ادبي ټولنو له خوا شایع کېدلې ـ چې اوس پکښې ډېرې بندې شوي دي ـ په دغو مجلو کښې یوه مجله ”وطن“ هم ده ـ چې د مسلسل دیارلس کلنو نه پس بنده شوې ده ـ دغه ارټیکل کښې به د وطن مجلې د نثر به برخه کښې د تکلونو فني او فکري جاج اخستل کیږي.په لاندینو پاڼو کښې اول د وطن مجلې په پېژندلو او روستو د وطن مجلې د نثر په برخه کښې دتکلونو فني او فکري جاج اخستل کیږي.

## .2.1 د وطن مجلې پېژندګلو:

”وطن“ مجله په مردان کښې د ”تخت بهائي“ ادبي ټولنې مردان له خوا او ادبي ملګري ریاض د سیوري لاندې چاپ کېدله ـ چیف ایډیټر ئې عبدالقهار صیاد او ایډیټر ئې ساجد محمد شائق وۀ ـ دې نه علاوه ئې صلاح کاره ډله کښې شمس القمر اندېش، ډاکټر راج ولي شاه خټک، پروفېسر زبېر حسرت، اباسین یوسفزے، پروفېسر قاسم محمود، او محمد جمیل خان غوندې باصلاحیته خلق پکښې شامل وو ـ مرستیال مدیر ئې غلام حېدر حېدر دے ـ قائم مقام مدیر ئې حاجي سبزعلي خان وۀ ـ ښاد شموزے ئې سرکولېشن منیجر، وړومبے قانوني مشر ئې اعجاز ایډوکېټ ورپسې اکبر هوتي اېډوکېټ وۀ ـ وطن مجله وطن کښې دننه او نور بهر دنیا کښې ګڼ شمېر نمائندګان لرل ـ وطن دوه میاشتنۍ مجله وه دا په درېو جلدو مشتمله وه ـ په اول جلد کښې ئې څلور او په درېم جلد کښې ئې پینځه مجلې شاملې دي ـ دلته به د نثر د پېژندګلو په حقله بحث لږ اوږد کړو چې نثر او د نثر قسمونه کوم کوم دي ـ چې د هغې په رڼا کښې بیا د وطن مجلې په نثري خدماتو رڼا واچوم ـ

## .3.1 د نثر پېژندګلو او منثور ادب:

: هسې خو ادب په دوه برخو کښې وېشلے شوے دے چې یو ته منظوم او بل ته منثور ادب وئیلے شي په منظوم ادب باندې مخکښې بابونو کښې خبره شوې ده خو دلته به د منثور ادب پېژندګلو وکړو چې هغه لیک لوست چې د ردیف او د قافیې د قېده ازاد وي نو هغې ته نثر وائي ـ د نثر لغوي معنا په پښتو دریاب لغت کښې داسې بیان شوې ده ـ

”هغه عبارت یا لیک چې منظوم نۀ وي ـ“[ii]

یعني هغه لیک چې روان او اسان وي او مونږ پکښې خبرې کوو چې د وزن او بحر د قېد نه ازاد وي نثر بللے شي ـ د نثر اصطلاحي معنا هم ډېرو پوهانو کړې ده ـ چې هر یو ترې لوستونکي ته خپل خپل مطلب ښکاره کوي ـ دغه ټول په خپل ځائے د اهمیت وړ دي خو دلته به زۀ د یو څو ادبي پوهانو د نثر په حقله وېناګانې رانقل کړم چې دلته ترې مونږ ته د نثر پېژندګلو اوشي ـ

پروفېسر افضل رضا لیکي:

”نثر پهٔ لغت کښې پاشلو او شيندلو ته وئيلے شي ـ ولې پهٔ اصطلاح کښې ترې نه مراد هغه کلام دے چې د وزن د قېد نه ازاد وي ـ “[iii]

د نثر پهٔ حقله د پښتو ژبې استاذ او د پښتو اکېډمی پېښور باني مولانا عبدالقادر د نثر اصطلاحي معنې پهٔ حقله ليکي :

”د نثر معنا د ملغلرو يا مشکېو پيئل دي ـ ملغلرې راؤښکل او هغه بيا پهٔ يو خاص شکل کښې پيئل ، پېچل لوئې کړاؤ او زيار غواړي ـ “[iv]

پورته تعريفونو نه مونږ ته دا اندازه کېږي چې يو داسې ليک لوست چې اسان هم وي ، ساده هم وي ، روان او ښکلے هم وي ـ او لوستونکے ئې پهٔ لوستو کښې مشکل نهٔ محسوسوي نثر بللے شي ـ صديق الله رښتين د نثر څنې قسمونه بيان کړي دي ـ چې څهٔ دا ډول دي ـ

”د معنې د مخه د نثر لومړي قسمونه درې دي ـ چې پهٔ دې ډول دي ـ

1. خبرې اترې (محادثه نثر): هغه خبرې اترې چې خلق ئې د يو بل د پوهولو او مطلب ښکاره کولو دپاره پهٔ عادي ډول کوي ـ د خبرو اترو نثر بللے کېږي ـ
2. وېنا(خطابه نثر): خطابي نثر هغه خوندورې اغېزناکې وېنا ته وائي چې پوهان او مشران ئې د مهمو مقصدونو دپاره پهٔ لويو غونډو او ټولنو کښې کوي۔
3. ليکنه (تحريري نثر) : د ليک او تحرير نثر هغه دے چې د علمونو ، کتابونو او اثرونو د ليکلو دپاره ورځنې کار اخستل کېږي ـ [v]

”رېښتين صېب د مغربي پوهانو د نثر څلور قسمونه هم رانقل کړے چې له مخه ئې د اروپايانو د نثر تقسيم هم ښودلے لکه هغوي بيا نثر پهٔ څلورو ډولونو وېشي ـ

1. د تاريخ متعلق چې کوم ليکل پهٔ نثر کښې اوشي هغې ته تاريخي نثر وائي ـ
2. چې د قيصې عنصر پکښې شامل وي يعني فکشن قيصه ايز نثري ادب ته قيصئي نثر وائي ـ
3. د مشرق پهٔ شان هغوي هم يو ډول خطابي نثر بيان کړے دے چې پکښې مهمو سياسي ، مذهبي او نور مطلبونو غونډو ته وېناوې شوې وي ـ هغې ته خطابي نثر وائي ـ
4. څلورم قسم چې مشرق کښې ورته تحريري نثر وائي ـ هغوي ورته د کتابونو يا رسالو نثر وائي ـ“[vi]

### 1.3.1. د وطن مجلې پښتو منثور ادب ته بخښنې:

وطن مجلې چې څنګه د پښتو ژبې منظوم ادب پهٔ خپرولو کښې خپل خدمات تر سره کړي دي نو دغسې ئې پهٔ پښتو نثر کښې هم يو شمېر سياسي ، تاريخي، سماجي ، اصلاحي ، مذهبي ، معاشي او ادبي ليکونه شايع کړي دي ـ پهٔ دې کښې نثري مضـامين مقالې ، مرکې، تکلونه ، خاکې ، سفر نامې ، تبصـرې ، رپورټونه، خطونه، کالمونه او تنقيدي جائزې وخت پهٔ وخت د نثر پهٔ برخه کښې خپرېدلې ـ چې مونږ ته د وطن مجلې د پښتو نثري ادب پهٔ ېنګه کښې خپل ارزښت هم راپهٔ ګوته کوي ـ د وطن مجلې خوش قسمتي دا وه چې دا په داسې وخت کښې چلېدلې ده کوم وخت کښې چې کهٔ يو طرف ته ښهٔ نظم ګو شاعران ژوندي وو نو بل خوا داسې نثر نګاران ووچې د خپل ځان مثال په خپله وو۔ چا چې افسانه ليکلې نو افسانه د اعلې پايې ده ـ کهٔ تکل يې ليکلے نو بې مثاله دے ـ کهٔ ناول يې ليکلے نو د نيوکے ځائے په کښې نشته خو کهٔ رپوتاژ يا بله نثر ټوټه يې ليکلې نو بيا هغه هم د کمال ده ـ لکه پښتو ادب کښې ډاکټر محمد اعظم اعظم ـ داسې په دې کښې نمائنده نثر نګاران لکه اسرار د طورو ، فېض الوهاب فېض ، ساجد محمد شائق ،محمد اقبال خټک ،حکيم دوست محمد فاني ، اکبر هوتي او داسې نور شامل دي ـ څوک چې په نثر نګارۍ کښې خپل يو مقام لري ـ البته د دې ارټيکل بنيادي سوال د تکل په

برخه کښې د پښتو نثر ته د وطن مجلې ونډه او د تکل فني او فکري جاج دی،نو په دې ارټیکل کښې هڅه شوې ده،اول د تکل په پېژندلو خبره شوې ده او بیا روستو د هغۀ مجلې په لیکلو شوې تکلونو فني او فکري جاج اخستل شوې دې

### 4.1. د تکل پېژندګلو:

تکل د نثري ادب یو صنف دے چې پکښې لیکوال د خپل ژوند فکرونو ، تجربو یا موضوعاتو په اړه په ژوره ، تفصیلي او تخلیقي ډول خبرې کوي ۔ تکل د ارادي فکر او هنر یو ترکیب دے چې د نثر په بڼه وړاندې کېږي ۔

"په انګرېزۍ کښې ورته Essay وائي ۔ چې د فرانسیسي ژبې Essi نه وتے دے ۔او په عربی کښې ورته السعي په اردو کښې ورته انشائیه او پښتو کښې ورته تکل وئیلے شي ۔ ددې څۀ خاص هیئت نشته او نۀ ورله د ضروري ده چې خامخا دې د مضمون په هیئت کښې ولیکلے شي لکه ځینې خلق ئې چې د مضمون په زمره کښې یادوي ۔ کله کله په تکل کښې د قیصې عنصر شامل شي ولې تکل د هغې شکل نۀ اختیاروي دغه شان تکل لیکونکے د مکالمو نه کار اخستل شروع کړي چې د هغې سره تکل د ډرامې په حدود کښې شي خو ډرامه نۀ شي ۔ دغه شان تکل د رپورتاژ او سفرنامې د تکنیک نه هم فائده اخلي او کله د طنز و مزاح نه خو نۀ ترې سفرنامه جوړېږي او نۀ د طنز و مزاح مضمون جوړېږي ۔"[vii]

فضل میر خټک صېب د تکل په اړه خپل خیال داسې څرګند کړے دے ۔

"د نورو مغربي اصنافو په شان دا صنف هم مونږ ته د انګرېزۍ او اردو په لار راغلے دے ۔ د انشائیې باني یو فرانسیسي ادیب "مونتان" وۀ دۀ په کال ۱۵۷۰ کښې د نثر په زمره کښې په ځینو موضوعاتو په نرمه او خوږه ژبه کښې داسې پاسته لیکل کړې وو چې د هغې وخت د ادب په یو صنف کښې هم نۀ شو شمارلے په دې وجه ورته Attempt Essai یا د څۀ وئیلو کوشش نوم ورکړے شو ۔ خو وئیلے شي چې دا دې اصل لفظ د عربی سعی یا السعي دے چې د مسلمانانو د دور حکومت په وخت سپین او فرانس ته رسېدلے دے ۔ "[viii]

"د ایوب صابر د وېنا مطابق تکل د اولسي ادبي جرګې ایجاد کړے دے ۔ دوست محمد کامل په ړومبي ځل په اولسي ادبي جرګه کښې د انګرېزۍ ژبې د پرسنل یا لائیټ ایسے او د اردو ژبې د انشائیې دپاره مترادف لفظ تکل غوره کړہ ۔ دا د ذکر شوي صنف دپاره د معنا او مفهوم تر مخه یو غوره او موزون نوم دے ځکه ئې د پښتو ژبې لیکوالان تر اوسه استعمالوي ۔ "[ix]

وئیلے شي چې تکل ته یو بل لفظ هڅه هم دغه جرګه کښې پیش کړے شوے وۀ خو هغې لفظ ته چا ډېره توجه ورنۀ کړه چې دې نه مخکښې تکل خوښ کړے شوے وۀ ۔ حقیقت کښې هڅه ایسے او السعي درې واړه هم معنا او هم صورت لفظونه دي ۔

په پښتو ادب کښې په شعوري توګه د تکل لیکوالو هڅه سید تقویم الحق کاکاخېل ، ایاز داؤدزي او د ددوي تکلونه ښاغلي ډاکټر همایون هما په خپل کلیات کښې چاپ کړي دي ۔ د ارباب سکندر خلیل د مضمونونو مجموعه ګلونه او ازغي کښې د تکل رنګ ځان ښائي لکه تربور او بې وخته مېلمانۀ د راحت زاخیلي یو خوب د تکل په زمره کښې راځي ۔

په پښتو ادب کښې د تکل باقاعده اغاز سره یو شمېر لیکوالانو د تکل لیکلو ته مخه کړه په دې کښې د داور خان داؤد ، ماښام خټک، ډاکټر اسرار، مهر اندېش، سلیم خان سلیم ، پیر ګوهر، اختر منیر منېر، خلیل باور، ساګر تنقیدي ، سعدا لله جان برق، اسیر منګل او یو شمېر نورو لیکوالانو تکلونه وخت په وخت په مختلفو رسالو او مجموعو کښې چاپ شوي دي ۔

### 5.1. د وطن مجلې د تکلونو فني او فکري جاج :

په وطن مجله کښې به وخت په وخت تکلونه چاپ کېدل ۔ د دېوال په نوم د علي ګوهر مشتاق تکل مهر اندېش صېب د خارښ په نوم تکل او د عزیز بسمل ګودر، څادر، مېله په نوم په زړۀ پورې تکلونه چاپ شوي دي ۔

Need bit explaination about artistic and ideological side of takal.

#### 1.5.1. دېوال :

دېوال د علي ګوهر مشتاق لیکلے شوے تکل دے ۔ چې د وطن مجلې په دوېمه ګڼه کښې چاپ شوے څنګه چې د تکل نوم ئې دېوال دے دغه رنګه ګوهر مشتاق صېب د خپل ژور نظر او تجربې په وجه په دېوال تفصیلي تکل لیکلے دے ۔ او دا خبره

ئې څرګنده کړې ده ـ چې دېوال د خپل ارزښت سره سره په ډېرو متلونو او محاورو کښې هم ځائے پېدا کړے دے ـ لکه زما د مخې دېوال مۀ جوړېږه ـ چې اختر تېر شي نو نکرېزې پۀ دېوال اوتپه ـ نن سبا دېوالونه هم حال وائي وغېره وغېره ـ
د محاورو او متلونو نه علاوه دېوال زمونږ پۀ اولسي ادب کښې هم يو ځانګړے مقام لري او شاعرانو اديبانو پۀ مختلفو اصنافو کښې د دېوال د لفظ نه کار اخستے لکه يوه ټپه کښې وائي :

کور دې نزدې کوڅۀ دې لرې
دېوال دې پرېوځه چې وېړيا شي ديدنونه

دغه رنګ ښاغلي ليکوال د دېوال لفظ سره تړلې ګڼ شمېر موضوعات د خپل تکل حصه ګرځولې ده ـ د مغلو د دور بادشاهي مسجد دېوالونه د شاهي قلعه لاهور دېوالونه د پېښور قلعه بالا حصار دېوالونه دي ـ دې سره سره د خانه کعبې مقدس دېوال هم ذکر کړے دے ـ او وئيلي ئې دي چې ددې دېوال ذکر پۀ قرآن پاک کښې هم راغلے دے ـ
پۀ اخر کښې ئې د دنيا د ټولو نه غټ دېوال چې د ديوار چين پۀ نامه پۀ ټوله نړۍ کښې پېژندلے شي ـ د هغې ذکر پۀ ډېر تفصيلي انداز کښې کړے دے ـ
”دا عظيم دېوال د چين پۀ مشرقي شمال ساحل باندې د شان هاکي نه شروع کيږي او پۀ يوګان ختميږي هسې د شان هاکي نه تر يوګان پورې فاصله اوولس سوه ميله ده ـ خو دا دېوال د يو لوئې اژدها پۀ شان تاؤ راتاو او ښکته پورته دے ـ دې دېوال پۀ غرونو او ځنګلونو او سيندونو باندې خپله لاره کړې ده ـ

پۀ دې دېوال باندې هر درې سره فټه کښې د پوليس څوکۍ ده او دغه شان پينځه ويشت زره څوکۍ جوړې شوې دي ـ د ماهرينو د اندازې مطابق دا دېوال دومره لوئې دے چې د سپوږمۍ نه بغېر د دوربينه ښکاري ـ د انسان عظمت او محنت د عظيم شاهکار نن هم د تېرې شوې زمانې يو عظيم الشان تصوير دے او د دنيا پۀ مشهورو عجوباتو کښې شمېرلے شي ـ “ [x]

2.5.1.خارښ: د خارښ پۀ نوم د مهر اندېش صېب ليکلے تکل د وطن پۀ اوومه ګڼه کښې چاپ دے ـ اندېش صېب د خپل تکل پۀ برکت د انسان د مخلتفو خارښونو ذکر کړے دے ـ يو خوا ئې د خارښ پۀ مختلفو قسمونو پۀ تفصيل سره خبره کړې ده بل خوا ئې د هغې د علاج دپاره چې خلق کوم مختلف داروګان يا طريقې خپلوي پۀ هغې تبصره کړې ده ـ دغه رنګه ئې د مختلفو خلقو پۀ مختلف خارښ،کښه باندې ډېر پۀ ښکلي انداز سره خپل ژور فکر او تجربې سره رڼا اچولې ده ـ او څرګنده کړې ئې ده چې دا خارښ صرف ځان ګرول نۀ دي ـ بلکې پۀ ډېرو خلقو داسې خارښ حمله کړې وي چې هغوي نۀ بيا نورو خلقو ته تکليف او نقصان رسوي لکه د مثال پۀ توګه:

”داسې خارښ هم شته چې هغۀ پۀ دوه کسانو يو ځائے راځي دغې خارښ ته جديد يا ترقي پسنده خارښ وئيلے شي ـ دا ډېر سود مند خارښ دے چې اکثر پۀ چپړاسي او افسر يا پۀ کلرک او افسر نيم پۀ نيمه يا پۀ افسر د خپل ګرېډ پۀ نسبت د چپړاسي نه سېوا وي ـ
کۀ چرې د وطن پۀ مختلفو چوکونو نظر اوکړې نو دملېشې پۀ قميص او پۀ ډوب بادامي پتلون او پۀ بل قسم پۀ پيکه اودي قميص او ډوب اودي پتلون کښې تاسو داسې ښارښتيان ووينئ چې توبې به اوباسئ ـ ددې خارښ نه دې خدائے پاک انسان څۀ چې ځناور هم وساتي ـ “ [xi]

د اندېش صېب د تکل د فن او فکر پۀ اړه يو ډېر معياري تکل دے ځکه چې اندېش صېب د خپل ژور فکر او تجربې پۀ وجه د خارښ پۀ ګڼ شمېر قسمونو خپل خيالات څرګند کړي دي ـ

3.5.1. تکل پۀ قيصۍ کښې :

”تکل پۀ قيصۍ کښې“ دشمس القمر اندېش صېب تکل دے چې د وطن مجلې پۀ نهمه ګڼه کښې چاپ شوے ـ
دې تکل کښې اندېش صېب د خپل بې وزله ژوند پۀ زړۀ پورې داستان بيان کړے دے ـ وائي چې زما يوه وړه شان نوکري ده او د کور خلقو ته د مردان نواب ښکارم ـ بېګم صېب مې دومره فرمائشونه کوي چې زۀ ئې پۀ ژوند کولو ستومانه کړے يم وائي چې ماما له مې جوړه اخستل غواړي د خوريې دې سنت راروان دے ـ د سرو سپينو کټ ، تولائي ، بالښت او د کټ څادر ئې درباندې حق دے ـ اخر ئې ماما ئې کنه ـ اندېش صېب پۀ دې تکل کښې د پښتو د بې مقصده او بې مطلبه رواجونو طرف ته اشاره کړې ده ـ چې سړي به تنخواه دومره نۀ وي څومره چې ورته خپلې بېګم صاحبې د غم ښادۍ جمع کړې وي ـ او دا يوه عامه او حقيقي خبره ده چې سړے غريب به ټوله لس اتۀ زره تنخوا اخلي او ښځه به ئې کله ماما له او کله مامي له د زرګونو روپو کېږې ، پېزار اخلي او دې ته به فکر نۀ کوي چې زما د خاوند دا پېسې پۀ څومره تکليف سره ګټي د مثال پۀ توګه ترې دلته څۀ برخه پېش کوو ـ

”د کور کرايه هم غوښتے شي او دوکاندار دے چې د کوڅې پۀ دروازه لکه د مستان د ډول سحر ، ماښام راباندې کړي وي ـ سړيه ددې سپېرۀ دا کاته لږه پۀ وخت خلاصوه د هغۀ خلۀ ګورے د مېرې

توری ده هر ځائے به درپسې غرېږي ـ ځومره موده اوشوه چې لور دې د قرآن مجيد ختم کړے دے ـ هغۀ استاذه به وائي چې دا لا څنګه خلق دي ـ نيازبينې لور له ختم نۀ شي کولے پۀ ختم ئې اووۀ اتۀ دېګه لګي خو خدائے خبر چې پۀ تا باندې دا خبرې ولې نۀ لګي ـ او رښتيا د وړو د سکولونو فيسونه هم غوښتے شي ـ د څلورو مياشتو نه د چت پکے مسترې سره پۀ پېسو کښې بانده پروت دے څومره موده اوشوه چې ثانۍ چاچې دې نوے کور جوړ کړے دے ـ ټول خپلوان ورکره امبارکۍ له تلي دي او مونږ پاتې يو ـ سبا له چې راځې د ځان سره جګ ګلاسونه ، شپږ سوچه رکېبۍ او پرچ پيالۍ راوړه چې بې غمه شو ترې ـ ـ ـ ـ ـ ـ
خدائے خبر چې هغې به لا نور څومره فرمائشونه کول چې پۀ ما سترګې تورې تورې شوې سر راباندې اوګرځېدو او پړمخې راپرېوتم ـ "[xii]

### 4.5.1. ګودر:

ګودر د عزيز بسمل تکل دے چې د وطن مجلې پۀ لسمه ګڼه کښې چاپ دې دا تکل د مضمون پۀ طرز ليکلے شوې د ګودر پۀ ارزښت ئې پۀ زړۀ پورې تبصره کړې ده ـ د تکل شروع ئې د حسېن احمد صادق ددې شعر نه کړې :

راځۀ چې سترګې پرې خوږې کړو د خوند رنګ مئينو
پېغلو شيندلي پۀ هر لوري د ګودر خوارۀ دي

ګودر چې د پښتنو د کلتور يو مهم او تاريخي عنصر دے چې د پښتون قوم د ژوند د سادګۍ ، مينې ، اجتماعيت او طبيعت سره اړيکه لري پۀ پښتني ټولنه کښې ګودر يواځې د اوبو راوړلو يا جامو وينځلو ځائے نۀ بلکې د ټولنيز ژوند يو مهمه برخه ګڼلے کيږي ـ
عزيز بسمل صېب د ګودر ګڼ شمېر قسمونه ذکر کړي دي ـ د پښتنو پۀ اولسي ادب کښې چې ګودر ته کوم اهم مقام حاصل دے هغې ته ئې اشاره کړې ده ـ

خاونده ما د ګودر پُل کړې
چې شا لېلا مې پۀ سينه بردي قدمونه

د ګودر هر بوټے دارو دے
پرې لګېدلي دي د ښکلو پلۀونه

څنګه چې حجره د پښتنو د کلتور يو اهم ځائے ګڼلے شي دغه رنګه ګودر هم د ډېر پخوا نه خپل مقام برقرار ساتلے دے ـ هغه يو شاعر وئيلي دي :

پۀ يو مو ګودر ښکلے وو پۀ بل مو حجره ښکلې وه
ځکه ډېر ذکر مې د منګي او د رباب کولو

عزيز بسمل صېب پۀ دې تکل کښې د ګودر د شړېدو وجوهاتو ته هم اشاره کړې ده او وئيلي ئې دي چې داسې ډېرې وجې دي چې نن سبا ګودرونه شړ شول څوک خپلې لور خور ته د تلو اجازه نۀ ورکوي ـ
غټه وجه دا ده چې اوس ګودر ته د تلو حاجت پاتې نۀ شو دنيا مادي ترقي اوکړه کور پۀ کور کويان دي موټرې اولګېدې ، ميونسپل کميټو ډيګۍ جوړې کړې ـ هر کور ته ډېر پۀ اسانه اوبۀ رسي نو ګودر ته د جينکو د تلو حاجت نه پېښېږي او نۀ بهانه جوړېږي ـ

"دوېمه وجه ئې دا ده چې اوس د سره ګودرې ختمې شوې ابادي سېوا شوه خلقو د خوړونو او سيندونو غاړې واخستې يا ئې قبضه کړې خلقو د ګودرونو غاړې راډکې کړې ـ او کورونه ئې پرې اباد کړل بله دا چې اوس خلق دومره ډېر شول چې هر ځائے د انسانانو يوه مېله وي هر ځائے دومره خلق وي چې څوک پۀ پټه د چا ديدن نۀ شي کولے ـ "[xiii]

### 5.5.1. ځادر :

د ځادر پۀ نوم تکل هم د عزيز بسمل صېب تکل دے کوم چې د وطن مجلې پۀ دولسمه ګڼه کښې چاپ شوے ـ ځادر چې د پښتون د ثقافت يوه اهمه برخه او نخښه ده د پښتون جامه ده لکه څنګه چې انګرېزان تهري پيس سوټ اغوندي دغه رنګه د پښتون هم پۀ جامه کښې قميص پرتوګ او ځادر شامل دے ـ

په دي تکل کښې عزيز بسمل صيب د څادر په اهميت او ارزښت په زړهٔ پورې تبصره کړې ده د څادر په مختلفو سټائلونو ئې څرګند کړې چې نن سبا پښتانهٔ په کوم کوم انداز څادر اغوندي .
مشران وائي چې د څادر يو کم سل فائدې دي . نومونړي ليکوال ئې د شپاړسو فائدو په اړه خبرې کړې دي . او يو نقصان ئې دا په ګوته کړے دے چې په څادر کښې هيڅ قسمه کار سړے نهٔ شي کولے ځکه چې کار په لاسو کيږي او څادر سره لاس تړلے شوي وي .
نن سبا څادر اکثر غلط خلق استعمالوي په دا وجه څادر نن سبا بدنام شوے ډېر خلق چې څادر واله بنده ويني نو اکثر پرې د غلط سړي شک کوي پکار دا ده چې مونږ څادر د غلطو کارونو او خلقو د استعمال نه بچ کړو .
د نمونې په توګه د څادر د تکل نه څهٔ برخه دلته پيش کوو . اوس د څادر استعمال ورو ورو کميږي او ويره دا ده چې څادر استعمال بيخي ورک نهٔ شي غټه وجه دا ده چې خلق فېشن وزپل او ددې وجې نه ئې د څادر استعمال پرېښودو اوس څادر ګرځول يو پېټے ګڼلے شي نو ځکه خلک څادر نهٔ ګرځوي .

> د څادر استعمال اوس په منفي ځيزونو او کارونو کښې ډېر شوے دے او اکثر بدمعاش خلق څادر استعمالوي نو ځکه شريفو خلقو د څادر استعمال پرېښودو . خو ددې هر څهٔ باوجود مونږ له پکار دي چې د څادر رواج لکه د پخوا عام کړو خپله جامه او ثقافت عام کړو او د څادر متعلق منفي سوچ ختم کړو . په دې حقله اګاهي مهم وچلوو دا ثقافت د فنا کېدو نه بچ کړو . "[xiv]

### 6.5.1. مېله :

مېله هم د عزيز بسمل صيب تکل دے چې د وطن په اخري يعني ديارلسمه ګڼه کښې چاپ شوے دے .
مېلې د يو قام د تهذيب او ثقافت د بېلو بېلو رنګونو د دغه قام د سوچ او انداز فکر او د پرمختګ عکاسي کوي . مېله يو ډېر زوړ تاريخ لري دا د بازار يا مارکيټ ابتدائي شکل دے . مېلې به هغه وخت هم لګېدې چې لا بازارونه منظم شوي نهٔ وو خلقو به د خپل ضرورت ځيزونه پکښې اخستل او د ضرورت نه سېوا به ئې په مېله کښې خرڅول چې تر ننه دغه روايات د مېلې ژوندے دے .
عزيز بسمل صيب په دې تکل کښې د مېلې په اهميت او په مختلفو قسمونو تبصره کړې ده . د خپل ژور فکر او تجربې په وساطت ئې د مېلې ارزښت په ګوته کړے دے .

> "په يورپ امريکه هم ډېر پخوا نه مېلې لګېدې بلکې غلامان به په دغه مېلو کښې خرڅېدل . مېله د پښتون کلتور او ثقافت مختلف رنګونه څرګندوي د پښتنو د تفريح او خوشحالۍ يوه اهمه او واحده ذريعه ده هغه وخت چې کله د تفريح نورې ذريعې لکه فلم . ټي وي او رېډيو وغېره نهٔ وو نو خلقو به د مېلو د تلو نه مزه اخسته او ډېر په شوق به ورته ورتلل . دا د خوند او رنګ موج مستۍ يوه ارزانه ذريعه وه . مداري د مېلې هغه کردار يا کيرکټر دے چې په يو پينځه شپږ سوه کسان دوه درې ګينټې ځان ته ودروي دا دومره دلچسپ کردار دے چې خلق ورته په ګهېنټو ګهينټو په ناسته يا ولاړه تنګيږي نهٔ . کومو خلقو ته چې د ناستې ځائے ملاؤ نهٔ شي نو هغوي د پښو به څوکو اودريږي خو د مداري تماشه نهٔ قضا کوي . مداري د خپلې ډرامې په خپله واحد رائټر ، ډائريکټر او اداکار وي په ادبي ژبه کښې داسې ډرامې ته مونو لاګ وئيلےشي . او داسې کرکټر ته ون مېن شو وئيلےشي . ځيني خلق خو صرف د مداري تماشې له مېلو ته ځي . "[xv]

د وطن مجلې تکلونه په خوږه روانه ،ساده او ادبي ژبه ليکل کېدل چې د لوستونکو دپاره ئې جاذبيت زياتوهٔ . په دې تکلونو کښې د وخت د ټولنيزو سياسي او ملي مسائلو په اړه خبره کېدې . د وطن دوستۍ او ازادۍ مفاهيم د ټولنې د پرمختګ لارې چارې د پښتو ژبې د ادب خدمت او پراختيا به ئې کوله . دې ګڼه کښې به د خپل وخت د معاصرو موضوعاتو په اړهٔ تکلونه ليکل کېدل . چې د خلقو د ژوند واقعي ستونزې او حل لارې به ئې بيانولې . ګڼ شمېر ليکوالان ئې د تکل ليکلو ته وهڅول چې خپل قلم د تکل په زمره کښې اوچت کړي . ددې مجلې د تکل دپاره ځانګړے چوکاټ برابر کړي او لوستونکو ته ئې ملي شعور فرهنګي مينه او ټولنيز پېغام ورکړو . دې سره سره ئې د تکلونو د لارې د پښتو ادبي نثر په ډيزائن او بڼکلا کښې ځانګړے پرمختګ اوکړو .

دا څېړنيز جاج د وطن مجلې د "تکل" شپږو نثري ليکنو؛ څادر،خارښ ، دېوال، مېله، تکل په قيصه کښې او ګودر د فني او فکري اړخونو له مخې تر ژورې څېړنې لاندې نيسي. د دې ليکنو تحليلي جاج دا څرګندوي چې "تکل" د معاصر پښتو نثر له هغو ليکوالو څخه دے، چې د ساده، خو معني داره ژبې په وسيله د ټولنې ژور حقيقتونه انځوروي . د ده نثر نه يوازې د بيان له پلوه منظم او تسلسلي دے، بلکې د موضوع او احساس تر منځ يو طبيعي توازن هم لري، چې لوستونکی ورسره ذهني او فکري تړاؤ پيدا کوي .

د فني پلوه د تکل په ليکنو کښې د علامت، تمثيل او استعاري کارونه په ځانګړي ډول د پام وړ دي ـ څادر د حيا، عزت او ټولنيز فشار علامت ګرځي، دېوال د جبر، بېلتون او خاموشې استازيتوب کوي، مېله د ژوند د ظاهري خوښيو تر شا د پټو دردونو انځور وړاندې کوي، تکل په قيصه کښې د نثري تجربې او بيانيې سره سره د ټولنيزې شخړو باندې نيوکه ده، او ګودر د کليوالي ژوند، ګډ کلتور او ټولنيزو اړيکو ژوندی تصوير وړاندې کوي ـ داسي خارښ د انساني اخلاقي کمزوريو نشاندهي کوي ـ دا ټولې ليکنې د نثر له فني جوړښت سره سمون لري او د موضوع د اغېز د زياتولو وس ګرځي ـ

له فکري اړخه د تکل نثر د ټولنيز شعور د راويښولو هڅه کوي ـ هغه د انسان د داخلي درد، طبقاتي توپير، کلتوري زوال او اخلاقي ارزښتونو په اړه ژور فکر وړاندې کوي ـ د ده ليکنې لوستونکی يوازې د قيصې تر کچې نه دروي، بلکې هغه د سوچ، پوښتنې او ځان محاسبې ته اړ باسي ـ په دې توګه تکل نثر د اصلاح، تنقيد او انساني همدردۍ پيغام لري، چې د ادب اصلي موخه بلل کېږي ـ

په ټوليز ډول ويلے شو چې د وطن مجلې د نثري برخې تکل د فني ښکلا او فکري ژورتيا يو برياليے امتزاج دے دا ليکنې نه يوازې د مجلې ادبي ارزښت لوړوي، بلکې په معاصر پښتو نثر کښې د يو داسي ليکوال انځور وړاندې کوي، چې ادب د تفريح تر کچې نه محدودوي، بلکې د شعور، احساس او ټولنيز بدلون وسيله ترې جوړوي ـ دا څېړنه دا نتيجه اخلي چې تکل د وطن مجلې د نثري روايت يو مهم او اغېزناک غړ دے، چې د لا زياتو علمي او ادبي څېړنو وړتيا لري ـ

حوالې

---

[i] ـ حکيمزے، بدرالحکيم، ډاکټر، د پښتونخواه لنډه مطالعه :اعراف پرنټرز پېښور، 2018ء، مخونه12، 13

[ii] ـ مومند ،قلندر ، درياب ، اين ډبليو ايف پي ټيکسټ بک بورډ، ۱۹۹۲، مخ ۱۲۳۹

[iii] ـ رضا ، محمد افضل، پروفېسر ، پښتو نثر تاريخ ، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي ، دوېم چاپ ۱۹۹۵ ، مخ ۷۱

[iv] ـ عبدالقادر ، مولانا ، پښتو نثر ، مشموله: درې مياشتنۍ پښتو ، پښتو اکېډمي جلد اول ، کال ۱۹۵۷، مخ ۷۰

[v] ـ ريښتين ، صديق الله ، د پښتو د نثر هنداره، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي ، مخ ۱۳

[vi] ـ هم دغه اثر مخ ۱۴

[vii] ـ مشتاق مجروح ، يوسفزے، زرکانے مخ ۱۹۰

[viii] ـ خټک، فضل مير ، فضليات مخ ۶۳

[ix] ـ خټک ، ماښام ، پښتو ادب کښې د تکل ابتدا او ارتقاء چاپ کال ۲۰۱۵ جرس ادبي جرګه کراچي مخ ۴۷

[x] ـ وطن دوېمه ګڼه ، جولائي ، اګست، ۲۰۰۷، جلد اول مخ ۱۸

[xi] ـ وطن ګڼه ، اوومه مئ ، جون ۲۰۰۸ ، جلد دوېم مخ ۴۵

[xii] ـ وطن ، نهمه ګڼه ، جنوري ، فروري ، ۲۰۰۹ جلد درېم مخ ۳۷

[xiii] ـ وطن لسمه ګڼه، مارچ اپرېل ، ۲۰۰۹ ، جلد درېم مخ ۱۵

[xiv] ـ وطن دولسمه ګڼه ستمبر، اکتوبر، ۲۰۰۹ جلد ۳ مخ ۳۸

[xv] ـ وطن ديارلسمه ګڼه جولائي ، اګست ۲۰۱۰ مخ ۴۰،۴۱